ګلوييونه

مجاور احمد زيار

مجاور احمد زیار

ګلوییونه

(نهم شعري غونډ)

PROPERTY OF ACKU 3491

وری ، ۱۳۷۲

سکینې ته

چې زما له اورني ژوند سره یې

ورو ورو اړخ ولګولای شو

په مینې مینه

د کتاب نوم : ګلوبیزونه

ویناوال : پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

خپرندوی : د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه

ګڼه : ۳

کمپوزر : سید حسین هاشمي

چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه

چاپځای : شرکت پریس ، لاهور

نیټه : وری ، ۱۳۷۲ / مارچ ، ۱۹۹۳

لیک : کاتب بشیراز

یادښت

زه له خپلې لوښې سره سم د تیرو غونډونو غونډې دغه شعري غونډ هم له هماغو ولسي ډوله ساده بیلګو څخه را پیلوم چې زما د شاعرۍ په لومړنیو « غورځنګي » پړاوونو اړه لري او د چا خبره شعر او بیا غزل نوموړ یې ماته پخپله هم نه خندا وړ ښکاري .

لومړی مې غوښتل هغه راټول کړم او هماغه غورځاڼ یې له را وروسته « پخو » هغو سره چاپ ته وسپارم ، خو څرنګه چې د ټولو راټولول ښایي زما د ژوند تر پایه کیدون ونه لري ، نو څه چې له ما سره په لاسکښلې بڼه چیرې په زړو کتابچو کې خوندي را پاتې وو او یا هم چیرې د کتابتونونو له کوم نیم نیمګوري اخباري کلکسیون څخه لاسته راغلل ، ایله په سیر کې یوه پنځۍ هومره شول او غورځاڼ مې غوره ونه ګاڼه .

په هره توګه د یوې ساده پښتني مینې دغه شعر ډوله یا غزل ډوله ساده انځورونه تر اوسنیو « پخو » رومانتیکو شعرونو پر ما ځکه ګران دي چې زما د ځوانۍ د پیر هره شیبه پکې له ټولو دردونو ، کړاوونو ، ناکامیو او نهیلیو ، بیوزلیو او بې برخیو او بیا مینه وړو سوزونو او سازونو ، هیلمنو ولولو او بریو سره پکې را نغښتل شوې او ځلول شوې ده . که انځوریزه او ښکلاییزه خوا یې کمزورې او ناڅیزه هم ده ، لړ تر لږه خو زما د فکري ودې ، ټولنیزې ځانخبرۍ ، رواني اکر او بیا د مهال

و چاپیریال یوه نیمگړې شان څرګندویي هومره کولای شي او له دې سره کره کتونکو ته نه یوازې زما ، بلکې په ټولیزه توګه د وسمهالي (معاصر) پښتو شعر - لږ تر لږه بره خوا - یو شل کلن بشپړتیایي یون ورجوتولای شي . زما د ځواني شاعرۍ په لومړنیو کلونو کې بره خوا د پښتو شعر داسې کومې پرمختللې بیلګې نه لیدل کیدې چې زما غوندې پیلامه ګرو شاعر ګوتو لپاره د مخبیلګو ارزښت ولرلای شي . هغه مهال زما لپاره د لاروی ور شعرونه له ښکلاییز پلوه د حمزه ، ناظر ، مفتون ... او له منځپانګیز پلوه د اجمل ، طوفان ، غني ... هغه وو چې چیرې به یې کومه بیلګه نیمه په قاچاقي توګه تر کابله را ورسیده .

هغه کلونه د مشق او کړاو غوره لیار اقتفاوې او مشاعرې وې . چاپي مهالنۍ او رادیویي خپرونې د ځوانو استعدادونو د هڅونې او غوړونې خورا ښې وسیلې ګڼل کیدې او بیا به یې چې کوم غزلګوټی د کوم سندر غاړي له خوا له موسیقي ځپو سره غبرګون وموند ، نو دیخوا ته به یې مینه او لیوالتیا نوره هم پسې زیاته شوه .

د نورو همزولو غوندې زما سیالي هم په دې کې وه چې ښایسته قافیې او ردیفونه را پیدا کړم او بس ، د انځور او سمبول خبره بیخي په دویمه پوړۍ کې راتله . په دغه لړ کې ما په خپل ځانګړي نوښت تر ځانه یو څه مشران شاعران (محمدجان فنا او عزیز الرّحمن ممنون) یوې اوږدې مشاعرې ته راوهڅول او په دې توګه مو له (۱۳٤۰ - ٤۳ - ٤٤) پورې د ګډې نړۍ (شریکې دنیا) په نامه ورته دوام ورکړ ، که څه هم تر اوسه لا دغه درې کسیزه مشاعره د کوم جلا خپلواک غونډ په بڼه خپره نه شوه خو بر خپل خپل وخت په هیواد ورځپانه کې برخه برخه چاپ ته سپارل کیده . ما هم د دې لپاره چې لږ تر لږه مې دغه خپله

برخه را خوندي کړې اوسي ، په خپلو نورو شعري غونډونو او بيا په زياته کچه په دريم غزلغونډ کې له نورو شعرونو سره يو ځای واودله .

زه خپل (٣٦) کلن شاعرانه بهير په درو بيلا بيلو پړاوونو ويشم : په لومړي پړاو کې به مې قافيي لست کولې او هله به مې ترې بيتونه جوړول ، په دويم پړاو کې مې تر هر څه د مخه موضوع او منځپانګه ځانته ټاکله او هله به مې ورته پيېلې بڼه ورکوله ، په دريم پړاو کې بيا تر دې بريده را ورسيدم چې د يوې سوڅې له نوميرنې سره پټليز د يو لړ ورندو انځورونو ، سمبولونو او اسطورو په لټه کې شم او د چا خبره تر تفکر ، تخيل ته ډيره مخه وکړم . دا وروستی پړاو مې له شپږمې لسيزې څخه را نيسلي او له دې سره د « ويکتور هوګو » خبره د قافيو له باستيله هم راوځم . او يوازينی قافيه وال شعر چې په آسانه يې پريښووای نه شم ، هغه « نوی » غزل دی ، دا هم له دې ډاره چې نه چيرې د پرغز او دباو موخه شم او شپږديرش کلن ګټلی نوم را څخه بيرته وانه اخلي !

پريږدئ ، چې د دغو ساده ټوټو له اوډنې او خوندينې سره د خپلې ځلمينې تير يادونه د تاريخ پاڼو ته وسپارم او تلپاتې يې کړم .

په پای کې د ګران او منلي « سيد حسين هاشمي » د هغو ټولو لوريينو اداينه د ځان پور ګڼم چې زما ګڼې وړې لاسليکښنې يې سره په څو غونډونو کې په خپلو فنکارو ګوتو واوډلې او په دې لولنګرۍ کې يې له ورکې وژغورلې . دغه راز د زړه له کومي د ګران « کاتب شيراز » د کتابت او د افغانستان کلتوري ټولنې او د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د فرهنګپالنې پاسلنه کوم .

په ټوله شاعرانه مينه

زيار - اکوړی ، ٣١ - ١٠ - ٩٢

نيوليک

سرليک	مخګنه
تصوير	١
د ژوند سودا	٢
پيغلوټې مينه	٣
د زغم اړې	٤
د مينې لمبې	٥
ځوانه مينه	٦
له سپوږمۍ سره	٧
رښتيانۍ مينه	٩
پښتنه مينه	١٠
د اوښکو لاله زار	١١
دليمو څاڅکي	١٢
د ليونتوب پيغور	١٣
د شعر پيغام	١٤
د مينې پيمان	١٥
اوښتي رنګونه	١٦
ژړا	١٧
د عشق ګناه	١٨
د مينې هار	١٩
د ارمان ځنکدن	٢٠
د سترګو رڼا	٢١
د منزل په هڅه	٢٢
د منزل په هڅه	٢٣
د مين مرګ	٢٤
د اختر مبارکي	٢٥
د وصل تمنا	٢٦
د زړه غلا	٢٧
خوبولې خاطرې	٢٨
د عشق اقرار	٢٩
رنګينې ترانې	٣١
د عشق وبال	٣٢
زما دنيا	٣٣
د مينې ترانه	٣٤
د سباوون پلوشې	٣٦
د مينې درد	٣٧
ستا ښکلا	٣٨
د عشق بلهارې	٤٠
د محبت کيميا	٤١
نوی کال	٤٢
د مينې شهادت	٤٣
يو ليک	٤٤
د انتظار شيبې	٤٥
چې ته راشې	٤٦

سرلیک	مخکنه
مسلمان زرگی	٤٧
د لیک ښار	٤٨
د مینې تنده	٤٩
د زړه سیپۍ	٥١
د جنت گلونه	٥٢
ځلا	٥٤
پیبلي امیلونه	٥٦
د باور وړانگې	٥٧
د مینې بریا	٥٩
د گلو پر اوربو	٦١
بلې ډیوې	٦٣
د کوڅې کانې	٦٤
گل پرهرونه	٦٥
د پلوشو بهیر	٦٦
لیږد	٦٨
غزل	٦٩
سره غمي	٧٠
د سهار پر اوربو	٧٢
سکنېلي زخمونه	٧٤
د بیلتانه شیبې	٧٦
د غزل امیل	٧٧
د شونډو نڅا	٧٨
د مینې برخلیک	٨٠
د برچو پر مخ	٨٢
مرمرین مړیستون	٨٤
د اشنا کلي ته	٨٦
تتې ډیوې	٨٨
د وینو څڅوب	٩٠
د مینې ناکام	٩٢
ستا تر وره	٩٤
د لمر څنې	٩٦
د گل سیوری	٩٨
گل خبره	١٠٠
محشر	١٠٢
په سترگو سترگو کې	١٠٣
ته به پاتې یې	١٠[illegible]

بسم الله الرحمن الرحیم

تصویر

د خوښۍ له ښښو ډك زما تصویر دی

که څه هم دا ستا له غمه پرما ویر دی

دا مې عکس دی ، څه چې یم هغه دانه یم

ښکاره خوښ او زړه کې ښخ مې د غم تیر دی

یو بې سا غوندې تصویر دی ، نور به څه وي

دا چې روح مې له همتا سره اسیر دی

اوس چې روح و تصویر دواړه در په لاس شول

د دې دواړو پیوستون زما تعبیر دی

جنازې مې د ارمان د زړه له کور ځي

چې پر مخ مې جوړ د مړو اوښکو بهیر دی

شي به ماته خو پلمه د لیدو جوړه

چې دې کړی نن زما د مرگ تدبیر دی

بس ده ما لره ستا هومره پیرزوینه

چې کنځلی دې په سپکو دا فقیر دی

نور به څنگه مجاور له تانه ولاړ شم ،

چې په غاړه کې مې ستا د عشق زنځیر دی !

کابل دارالمعلمین ، ۱۴ - ۱۰ - ۳۷

د ژوند سودا

پر خدابړو چې د یار ناز و ادا خوړلی یم
کوږې ووږې د زلفو اژدها خوړلی یم
په سرو سپینو بارخو مې د خپل ځان کړله سودا
سودا له خپله لاسه په سودا خوړلی یم
ګرم هسې لیونۍ مینې له ځان ځنې بې ځانه
چې سترګو د اشنا مې نا اشنا خوړلی یم
د مګره لاس پر سر شه نور زما له دمولو
چې نه شي په اوده هغې آشا خوړلی یم
په لوی لاس مې چې اخیسته بلا د تورو سترګو
څه هیښنده ، که زه تورې بلا خوړلی یم
چې ولاړمه یوځل بې تر کوځې ، نو څه پروا
په سپیو رقیبانو که لیلا خوړلی یم
شمیرلې تیر پر هیروې ، ما د تیر مهال نادودې
ناخوالو د بې نیاوو نن سبا خوړلی یم
له زیار سره په متې دغه نن د ژوند سودا شوه،
خونخوارو تورو سترګو لاپخوا خوړلی یم !

نوی ښار ، ۳۸

پېغلوټې مينه

چې راغلم دې نړۍ ته ، له فتنو سره مې كار شو
د ژوند له درد وغم او انديښنو سره مې كار شو
الست ومه مست كړي د جنت مستو نغمو كې
خود ونښتم په دام كې چې دانو سره مې كار شو
دا چارې پرما وكړې پښتنې پېغلوټې مينې
چې شپه او ورځ له اوښكو پښتنو سره مې كار شو
وفا مې هيڅ ونه مونده د ښكلو په بازار كې
د تش لباسي حسن رنگينو سره مې كار شو
سودا مې چې د عشق كړه د مهال په كږه تله
د چل ول او ټگيو له چنو سره مې كار شو
وحشت مې د كبليانو كړ زړه تور له ابادۍ نه
ديره شوم په بيديا كې ، غرڅنو سره مې كار شو
جنون د پاكې مينې د جمال زندان ته راوړم،
اوس پوه شومه پرې زياره ، زولنو سره مې كار شو !

نوى ښار ، سلواغه - ۳۸

د زغم اړې

د عشق جذبې لرم سړې به نه شي
بلې لمبې لرمه مړې به نه شي
که هرڅه وکړم نتداره د ښکلو
سترګې مې وږې دي مړې به نه شي
د پاکې مینې لیونتوب په تور کې
ماتې له لاس مې اتکړې به نه شي
په تش وعده د څوریدلې مینې
هیلې مې څوانې دي زړې به نه شي
نور د رقیب له ظلمه نه ویریږم
را باندې ښخې بې چړې به نه شي
د بیوفا وو له نادودو څنې
غلې زما دا غرغړې به نه شي
ترڅه که ډیر د ژوندانه وڅکم
ډکې له زغم نه مې لړې به نه شي
رولن لا هسې د منزل په هڅه
مانع زما تودې سړې به نه شي

وړې وړې سلګۍ وهم که زیاره ،
د بیلتون شپې زما وړې به نه شي !

زمری - ۳۹

اړه= پیمانه

د مینې لمبې

د سینې تازه غندلو ، خور وربل دې وسیزلم
په اوږدو زلفو پریشانو ، الوول دې وسیزلم
سرې دې شونډې دې بې پانه، سره بارخولن لونړی زنه
د سپین مخ په پلوشو ، لکه مشعل دې وسیزلم
تورې زلفې دې ونغښتې ، د ململ په سپین ټیکري کې
بل اتک تور کمیس پرغاړه ، د بخمل دې وسیزلم
ایله نن مې دا زړه وکړ ، مخامخ وګورم تاته
سمدلاسه د لیدلو ، په بدل دې وسیزلم
په زما د زړه طبیبه ، سوز دې کم نه کړله مانه
لا دې نوره بهانه کړه ، په درمل دې وسیزلم
نه مې حال د سوز څرګند شو ، نه مې ولیده ایره چا
راته ووایه محبوبې ، په څه چل دې وسیزلم ؟
زه له خپلو ګناهونو ، ننواتې راغلم تاته
د پښتو پیغور دې واخیست ، په درشل دې وسیزلم
سرې لمبې د یار د مینې ، دې کړې پورې په دفتر نن،
په رښتیا وایه زیاره ، دې غزل دې وسیزلم!

نوی ښار ، ۱۵ - ۵ - ۳۹

ځوانه مینه

پر زړه مې داغ وايه د چا نښه ده
دا د اشنا که د ناشنا نښه ده

ګوري چې بڼ کې سره او زېړ ګلونه
څوك د وامق څوك د عذرا نښه ده

چې په ځېر ځېر ګورمه تا ته سپوږمۍ
ستا په تندي کې د اشنا نښه ده

چې مې زړګی د يار له مينې نه اوړي
توبه پر خوله تش د ريا نښه ده

چې په تګ تګ کې ښه نيولې شوله
بيرته کاته يې د رضا نښه ده

د څنو شپول يې چې ترمخ شو چاپېر
ګل د بارخو يې د سبا نښه ده

چې د ځوانۍ په خوند پوه نه شوې زياره ،
د ځوانې مينې بس همدا نښه ده !

ادبپوهنځی ، وږی – ۳۹

له سپوږمۍ سره

کوږ پر کوم لوري مزلونه سپوږمۍ
هسې په بيړه چورلکونه سپوږمۍ

ستا په تندي کې مې د يار نښې دي
زما د مينې د يادګار نښې دي
د نازولو غونډې خوي لرې ته
د مينه وږې وفا بوي لرې ته
ګله له نازو له ادانه ډکه
ګله مخ پټې له حيا نه ډکه

تاوده پرتا دي محفلونه سپوږمۍ
مين پرتا زلمي او جونه سپوږمۍ

مينه وفا لرې ښکلا لرې ته
کنج و مکيز نازو ادا لرې ته
ښکلې ځلانده بې سينګاره يې ته
صدق و صفا لره هنداره يې ته
د لوی ښتن روښان مشعل يې ته
ځلاند څراغ د هر محفل يې ته

کوه کوه ، کوه سیلونه سپوږمۍ
خو چې هیرنه کړې زخمي زړونه سپوږمۍ

کله د حسن هنگامې وینې ته
کله د مینې کارنامې وینې ته
غم وخوښۍ ، یارو اشنا ته ورځې
باغ وبیدیا ، مجنون لیلا ته ورځې
ته پرده پوښنه د هرچا د مینې
نه یې غمازه ، څه که هرڅه وینې

ښکاره دي تا ته ټول رازونه سپوږمۍ
نخرې نــازونه ، مکیزونه سپوږمۍ

دې شنې ورشو کې کومې خوا لره ځې
چې له ما درومې وایه چا لره ځې
ستا دې قسم پردې ښکلا خپلې وي
هم دې سوگند ستا پر ځلا خپلې وي
چیرې گذر دې شو د یار پر کوڅه
د بیوفا او شوخ نگار پر کوڅه

ورته مې پوسه سلامونه سپوږمۍ ،
د پاکې مینې پیغامونه سپوږمۍ !

تله ، ۳۹

رښتیانی مینه

تیغ دې کړي د وروځو غوځول ګلې
خوند کوي د سترګو جنګول ګلې
بې تیغه که وژنې مې ولاړ یمه
بس دې دي د مخ راستنول ګلې
پرې ! چې دې لوګی شم له سپکلا ځني
دا د بد نظر دي ماتول ګلې
پرېږده چې تالی وهي مې زړه پکې
نور د تورو زلفو لړزول ګلې
لمر کله ښیږي په ټیکري سره
خوشې دي دا ستا مخ پټول ګلې

زیار سره که غواړې رښتیانی مینه،
نور یې دي په کار رسوا کول ګلې !

شیرعلیخان واټ ، ۷ - ۸ - ۳۹

پښتنه مینه

تللي به له مانه په ستنه نه وای
خوي باندې که مسته غرڅنه نه وای
ما که په لیمو ستا هرکلی نه کړای
جوړه به د اوښکو پرګنه نه وای
نه وای که پاللې پته مینه ما
سر به مې را پاتې پر تنه نه وای
پیغلې ځلمۍ هیلې یې قربان کړلې
کاشکې دا د شرم عنعنه نه وای
ما به پخاوه کباب د زړه ځله
چیرې یې ستا مینه میلمنه نه وای
کړې مې که غلا ستا د خولګۍ نه وای
زړه به مې په زلفو زولنه نه وای

ستغې د بیلتون به نه ګاللای زیار،
ستا که د غره مینه پښتنه نه وای !

شیرشاه مینه ، ۱۵ - ۱۰ - ۳۹

د اوښکو لاله زار

ونډ مې ليمو کې هر سهار اوښکې
يارته مې کاږي انتظار اوښکې
اسمان مې اوښکو سره بيا وژړل
خو اغيز نه کړي پرنګار اوښکې
د زړه لالونه شول ارزان خدايږو
نه لري چيرې خريدار اوښکې
چې اوس مې نه کوي پروا د اوښکو
څه که کړي توی مې پر مزار اوښکې
نه ږدي له خياله مې قدم لورې ته
که ورته جوړ کړم لاله زار اوښکې

د مينې لاس چې پاکې کړې نه دي ،
خود به نهيلې وي د زيار اوښکې !

سلواغه ، ۳۹

د ليمو څاڅکي

لمبو د هجر ايشولی يم زه
انګار د ميني څڅولی يم زه
د ځمکي مغ نيسم د يار په لټون
د زړه له کوره راوتلی يم زه
روغ پسرلي کي د خزان پرخه يم
د ګل پرڅای پر ځوز لويدلی يم زه
د بې پردې سپيني وينا په ګناه
يمه نتلی چيرې تللی يم زه
روڼ او ځلانده مي دې نه بولي څوک
د تور په خم کي رنګيدلی يم زه
بې له ژړا نه بل تعبير نه لرم
د زړه په نول که خنديدلی يم زه

پـريـږده څڅيږمه د زيـار لـه ليمو،
چي له خوږمن زړګي راغلی يم زه !

وری – ٤٠

د لیونتوب پیغور

چې له تانه گیله من شم ، نو له ځانه گیله من شم
که دې وژاړم جفا څپلې وفانه گیله من شم
په تومت د لیونتوب کې ، مانه پاتې کلی کور شي
لیونتوب چې هم پیغور شي ، له سا را نه گیله من شم
راته مخ کې سمندر شي ، ماله تا ځنې جلا کا
د نظر غونډې د سترگو له بارانه گیله من شم
چې انجام یو انتظار شي ، سمدلاسه بل آغاز شي
بې صبري مې پر سر واخلي ، له هجرانه گیله من شم
زیار ته نشته بې له تانه د درمنو هیلو ځای،
چې له تا گیله من نه شم ، وایه چا نه گیله من شم ؟

شیرعلیخان واټ ، ٤ - ٩ - ٤٠

د شعر پیغام

د زړه بلبل مې کومې خوا لره ځي
له دې خزان چمن سارا لره ځي
لکه بریښنا وه ابتدا د مینې
راغله او بیرته انتها لره ځي
ارزو هوس مې د وفا په سترګو
بیا مرور ښکلې اشنا لره ځي
چې اشنا مینه شوه ناشنا را سره
نن مې اشنا مینه ناشنا لره ځي
نن مې د اوښکو قافلې جوړې شوې
لیونې زړه پسې بیدیا لره ځي

چې ترې راوړي زیار ته د شعر پیغام،
د خیال ریبار مې هغه چا لره ځي !

نوی ښار ، ٦ - ١٠ - ٤٠

د مینې پیمان

ماتوې که ته ناحق پیمان د مینې
زه خو نه یمه هیڅ وخت پښیمان د مینې
پرېښوول یې ماته گران دي هسې رنگه
لکه تاته پرېښوول اسان د مینې
ستا د حسن محکمې ته به څه داد کړم
چې را څیرې کړ همتا گریوان د مینې
ته د عشق نافرماني کړه نازولې
زه به ورمه په لیمو فرمان د مینې
زه پرې سوده د بنو د چا لیلا کړم
له اغزیو ډک بیبان د مینې
بس له مرگه خوبه یادگار د مینې پرېږدم
هر ذره به شي زما داستان د مینې
ته پر خپل ښایست سنګلا ښا څه نازېږه
زه به ویاړم په شوکت وشان د مینې
د نیمگړو ارمانو بل انجام نشته
پرې چې یوسم گورته زه ارمان د مینې

ازادي د عشق دې تاته مبارک وي ،
زیار منلی اسارت ، زندان د مینې !

شیرعلیخان واړ ، ٥ - ١١ - ٤٠

اوښتي رنګونه

بیا ځلي د ساړه ژمي ، پر بهار بدلي شوي
اوږدي شپي د نهیلیو ، پر سهار بدلي شوي
کنګل شوي سرکیړ اوښکي ، پاس د غرو پر اننګیو
په یو څرك د امیدونو ، پر رود بار بدلي شوي
اسویلي ، ساندي زګیروي ، د غمیدلو ، غمځپلو
پر نغمو د بلبلانو ، او ابشار بدلي شوي
په لمسون د طبیعت شوه ، د موسم ځیره بدله
که زړي پردي صحنه کي ، د روزګار بدلي شوي
پیغلي هیلي تلوسي ځي ، د امید ګودر پر لوري
داځلموټي ارادي چي ، پر یو ولر بدلي شوي
د ګلبوټو سینو وکړل ، نوي نوي غندلونه
ناز نخري د نازولو ، پر ګلزار بدلي شوي
نه ټولیږي له خندا چي ، د اشنا یاقوتي شونډي
پر رښتیا باندي خبري ، د ربیار بدلي شوي
چي اوښتي نن له ځیلمي نه ، زاړه زاړه رنګونه ،
رنګینیځکه په شعر کي د زیار بدلي شوي !

جمال مینه ، وری – ٤١

ژړا

پرېږده اشنا دېرله غمو وژاړم
یم دردېدلی له دردو وژاړم
چې پر تا غوندې بیوفا شوم مین
د خپل قسمت پر فیصلو وژاړم
مخکې خندل مې د وصال په شیبو
اوس د بیلتون پر اندېښنو وژاړم
چې یو نیمزالې شان رڼا خو لاوه
په یاد د هغو ویښو شپو وژاړم
گوندې پر قبر مې لاله شي زرغون
مرگي مهال په سرو لیمو وژاړم
چې ناز دې زار نه کړ له زیار مغرورې ،
چاته به ستا له ناکردو وژاړم !

شیرعلیخان واټ ، ١ - ٢ - ٤١

د عشق گناه

رانه خوشي پټوي مخ په نقاب څه
دغه زه څه دغه ستا د ليدو تاب څه
که د مينې ميلمستيا کې کباب غواړې
زړه مې وريت دی حاجت نشته د کباب څه
ما د عشق په گناه مه نيسه زاهده
ليونيانو ته د مينې د عذاب څه
چې تل مست يم په تش خيال د يار د شونډو
ساقي نيسي راته مخ کې نور شراب څه
د دردمنو حال دردمنو لره بويه
بيدردان کله پوهيږي په دې باب څه
پروا مـه کړه که بې آب شوې د عشق زياره !
چې دې مخ په اوښکو لوند دی کوې آب څه ؟

نوی ښار ، ۱۲ - ۲ - ٤۱

د مینې هار

دا چې پرمخ باندې دې سیورۍ د وربل اوږد شو
خدایږو پر لوري د وصال زما مزل اوږد شو
زړه مې کوشیر ستا د کوکۍ له مسیدلو اخیست
په بوخڅیدو د شونډو ستا زما درمل اوږد شو
د بیلتانه شپه کې مې تیل د خپل زړګي وسیزل
چې تو سهاره څنکدن مې د مشعل اوږد شو
تقدیر مې ستا د اوږدو زلفو تنابو کې ونښت
که په ګوزار د بڼو مړ نه شوم اجل اوږد شو
ګوندې ښکارېږي د بدلون نښې زما نړۍ کې
له ماضي حال چې مې امید د مستقبل اوږد شو
چې په ګریوان کې مې دانې دانې شوې اوښکې زیاره ،
د مینې هار شو ورنه جوړ ، د سوز غزل اوږد شو !

نوی ښار ، ۱۵ - ۵ - ٤۱

د ارمان ځنکدن

لکه بلبل وي د ګلشن په ارمان
هسې يم زه ستا د ليدن په ارمان
ته زما ساوې چې جلا شوې رانه
له بيلتانه سوي اوس مې تن په ارمان
له سوز ژړا د اورنۍ مينې ستا
دواړه ليمه مې دي نمجن په ارمان
چې يې خوړلي د بنو غشي دي
يم د زخمي زړه رغيدن په ارمان
دايم په توره ستا د مينې شهيد
ځکه به نه يم د کفن په ارمان

راشه وروستۍ خبر خو واخله د زيار ،
چې يې تيريږي ځنکدن په ارمان !

شيرعليخان واړ ، ۳۰ - ۱۰ - ٤۱

د سترګو رڼا

که زه ستا او ته زما شې څه به وشي
زه مجنون ته مې ليلا شې څه به وشي
را سره په تور د مينې کې رنګ رنګ شې
ته هم ما غوندې رسوا شې څه به وشي

چې هم ستا د نظر غشي ژوبل کړي
دغه زړه ته مې دوا شي څه به وشي

پوړاینې ته زما د ژوبلې مینې
یوه خوږه شان تمنا شي څه به وشي

جدایي مې بینایي له سترګو وړي
که مې سترګو ته رڼا شي څه به وشي

د کلو کلو له مانه مروره
پس له عمره که پخلا شي څه به وشي

تمام عمر دې د نورو په خوله وکړه ...
نو که اوس زما په خوا شي څه به وشي

چې مې ونه غولوې نور په هغه دغه
وفا داره په رښتیا شي څه به وشي

د غم زنګ به مې شي لرې له زړګي نه
که یو ځلې په خندا شي څه به وشي

د زیار ساده تم په ستوني کې هم تاته ،
څنکدن ته یې که راشي څه به وشي !

کونړ ، وری – ٤٢

د منزل په هڅه

نازادا ، کبر و غرور که له سنګلا څخنې پوښتمه
ولولې زګیروي د مینې له سودا څخنې پوښتمه
د لیلا ګلابي مخ به د باغچې له سرو ګلونو
د مجنون حال به له کاڼو د سارا څخنې پوښتمه
خپل درمان ته مې ونه موند هیڅ طبیب پرمغ د ځمکې
نور درمان د بې درمان درد مسیحا څخنې پوښتمه
لالهنده پسې ګرځم وچې شونډې ګریوان څیرې
د ورك شوي زړګي پته له اشنا څخنې پوښتنه
رم وحشت د یار د سترګو د کبلۍ له وحشي سترګو
سره د شونډو یې له جامه د صهبا څخنې پوښتمه
پر ګلپاڼو پرتې پرخې مې ګواه پر رڼو اوښکو
څه به حال د بلبلانو له سبا څخنې پوښتمه

چې شوم سر پر کږلیچو او ګړنګو د مینې زیاره !
اوس نو لوری د منزل به زه له چا څخنې پوښتمه ؟

لوګر ، ۵ - ۲ - ۴۲

PROPERTY OF ACKU 3491

د مین مرګ

یو مین یم چې په عشق کې د جانان مرم
سینه داغ او په زړه سوی له هجران مرم
د شعر کور کې مې بې سوزه نور څه نه شته
خوار و زار یمه ، بې سرو بې سامان مرم
رنځ د مینې مې چاره علاج ونه مونده
داسې درد کړمه دردمن چې بې درمان مرم
لکه ګل یو خوله خندا مې ژوند اخر کړ
ترمې ترمې رژیدلی له خزان مرم
د پریشانو تورو زلفو په سودا کې
تمامي عمر پریشان وم او پریشان مرم
ګوندې را مې شي تلقین ته نازولې
د همدغه یو کتلو په ارمان مرم
تر ابد به مې د مینې یاد وي زیاره،
څه که اوس هسې بې نوم و بې نښان مرم !

ځاځي ، ۱۶ - ۳ - ٤۲

داختر مبارکی

یاران وایي یوبل ته د اختر مبارکي
میلې دي خوشحالۍ او لرو بر مبارکي
په زړه کې مې د مینې تلوسې کړي غځونې
نن استوم حضورته د دلبر مبارکي
د مینې له پاسلنې یې لیږم په مینه مینه
د کلي لوی وړوته له یو سر مبارکي
د سپین کاغذ د پاسه هسې توره سیاهي شوه
لیکلې ما په وینو د ځیګر مبارکي

د زیار له بده مرغه د ریبار هم پته نشته،
خود سپارم پر نسیم به د سحر مبارکي!

د ٤٢ کال لوی اختر

د وصل تمنا

زړه مې مېن شو له اشنا. سره ولاړ
د مغرور حسن ناز ادا سره ولاړ
څنګه په غبرګو پسې ړوند نه شمه
نور مې د سترګو له ژړا سره ولاړ
ټول هست ونیست مې پر بازار د ښکلا
بس د یوې مینې خندا سره ولاړ
اشنا تر اوسه هسې ټوکې کړلې
نن مې له خوانه په رښتیا سره ولاړ
غمونه پای شول خو افسوس چې عمر
سم د غمو له انتها سره ولاړ
چې رقیب ورک شو هم ، نور خیر دی که زیار
ګـورتـه د وصـل تمـنـا سـره ولاړ !

جمال مینه ، ١٦ - ٦ - ٤٢

د زړه غلا

سم چې را واړوي نګاره سترګې
شي مې روښانه بیا له واره سترګې
خدایږو بې میو مستوي مې مینه
ډکې د مینې له خماره سترګې
ګوندې اشنا له کومې لورې راځي
چې مې رڼیږي نن بې واره سترګې
که چیرې کیږدي پرې له نازه قدم
کړم به ور فرش پر هغه لاره سترګې
د تورو سترګو نظرمات په پار یې
شه مې لوګی د یار لپاره سترګې

ګوندې غلا کړی یې دی زړه ورځنې ،
دا چې شرمیږي یې له زیاره سترګې !

جمال مینه ، ۱۸ - ٦ - ٤۲

خوبولې خاطرې

راته په وره کې د ښایست ستا دروېزې لا ښې وې
هغه د مینې محبت تشې اسرې لا ښې وې
د پټې مینې په خاطر د غیر غماز له وېرې
تر سترګو لاندې غلې غلې اشارې لا ښې وې
چې ځلمیتوب مې ځار اوه له پیغلتوب ځنې ستا
زما زارۍ او ستا د ناز مانې ګیلې لا ښې وې
خوشې دې زلفې له سپین مخه بیرته واړولې
د زړونو ښکارته لکه جال غونډې خورې لا ښې وې
د مینه وړو ارمانونو رازو نیاز په نامه
چې مو لا مینه رسوا نه وه ، هغه شپې لا ښې وې
چې اوس دې تش کاته زړګوټې هم اندهیر شو پر زیار ،
د ماضي غیږ کې خوبولې خاطرې لا ښې وې !

جمال مینه ، ۲۲ - ٤۲
۲۳

د عشق اقرار

کړه قبول مې پر دربار که نور څه نه وي
یمه ستا به خدمتګار که نور څه نه وي
لاس په نام به دې ولاړ یم په درشل کې
بس کوم به یو دیدار که نور څه نه وي
د بڼو په تورو خلو او سرو اوښکو
پاکوم به درته لار که نور څه نه وي
په اسره د سرو غوټیو د باغچو ستا
پښې به ښکل کړم د مالیار که نور څه نه وي
دا چې زانګم ستا د زلفو د خیال ټال کې
شم اخر خوبه پردار که نور څه نه وي
پرېږده دا ځار وځپلی ځلمیتوب کړم
ستا یوې ادانه ځار که نور څه نه وي

ستا د ناز بې پروايي‌دا خاطرې به
را سره وي تل يادگار که نور څه نه وي
ستا له وره نه د نهيل زړه په خاطر مې
رابله خو مه اغيار که نور څه نه وي
گنم ستا په محبت کې ځان لپاره
ناکامي هم افتخار که نو ر څه نه وي
په خپل لاس خو به مې کېږدې پس له مرگه
سره گلونه پرمزار که نور څه نه وي
گوندې ستا له خولې نه واورمه په گور کې
هله ستا د عشق اقرار که نور څه نه وي
تازده خـداى او دا سپيڅلى پيغلتوب دې،
چې هير نه کړې دا خپل زيار که نور څه نه وي !

جمال مينه ، ۸ - ۸ - ٤٢

رنگيني تراني

په اوښکو مې د سترګو پيمانې رنګينې ښکارې
په وينو مې د مينې افسانې رنګينې ښکارې
ګوزار مې چې د ناز د نازولو په زړه وخوړ
پر قبر سرې جنډې مې نښانې رنګينې ښکارې
رازونه د ليوال زړګي مې ټول خواره واره شول
جامې مې په تومت د يارانې رنګينې ښکارې
د مينې د بلهارو شهيدانو ياد لپاره
په وينو د مجنون لا ويرانې رنګينې ښکارې
چې رنګ دې ورکړ زياره د خپل مات زړګي په خم کې،
نو ځکه دې د مينې ترانې رنګينې ښکارې !

لوګر ، ۲۱ - ۸ - ۴۲

د عشق وبال

که مې لاس نه شي چاپېره ستا ترغاړې
وي وبال مې دې د مینې ستا ترغاړې
زه دې څو وارې پښېمانه په توبه کړم
ته لا هسې پرخپل کبرو غرور وياړې
پرې جامونه ستا د کبر لا ډك نه دي
چې لا نور هم رانه وینې د زړه غواړې
څو به زبات کړې د وفا پرما د دروغو
څو لباس کې د چل ول به جفا نغاړې
ستا له غمه مې د سترګو چینې وچې
ستا له لاسه مې د زړه باغچې دې شاړې
چې به بیا کله قدم مې پر لیمو ږدې
پر ښو مې دې په څار اوښکې ولاړې

ستا پر تورلو ناز نخرو د زيار قسم دی ،
روح به تن نه زما ولاړ شي ، که ته ولاړې !

شیرشاه مینه ، ۸ - ۱۰ - ٤۲

زما دنیا

دا چې لرمه د غمونو دنیا
په کار مې نه ده د عیشونو دنیا
خپلې سرې اوښکې لاله زار شوې راته
د چا به څه کړم د ګلونو دنیا
چې پرې تیارې د ژوندانه کړم رڼا
لرمه هسې د سوزونو دنیا
زما قرار د امیدو تلوسې
زما ارام د ارمانونو دنیا
اخر ورانیږي به د زیار په متو
دا د سر زورو قدرتونو دنیا
له رنګارنګو تعبیرو ډکه ده
دا د خوږو خوږو خوبونو دنیا
د حقیقت څیره ځلیږي پکې
جوړه هنداره د خیالونو دنیا

څارشه د یار یوې ادانه زیاره ،
ستا د شعرونو الهامونو دنیا !

شیرشاه مینه ، ۲۲ - ۱۱ - ٤۲

د مینې ترانه

خاورې که هم تن کړې زما نه زما
پاتې به د عشق وي افسانه زما
وم لا تر هستۍ ځنې پخوا مین
حسن د جانان شو بهانه زما
جړ وربل چې سنکیل کړم په هوس د خال
ځکه شوه تر دام لاندې دانه زما
جوړ به مې د مینې تندي لیك شي ، که
خال کیږدي له وینو جانانه زما
بې د سرکو اوښکو له یاقوتو نه
نشته خدایږو بله خزانه زما
پالې پټه مینه چې له ما سره
سر له هغه چا شه نذرانه زما
تیریم له خپل ځانه خوله مینې نه
دغه زما ((هو)) ده او دا ((نه)) زما

مه شه په نامه د لیونتوب د عشق
پسنو نه دَ هوش لرې زولانه زما
برند ومست کتو د شرابي سترګو
مینه کړله مسته رندانه زما
اوس هم لا پخسیږي سرکو شونډو ته
ماته که د زړه شوه پیمانه زما
سوز به پتنګ هیر کړي خپل که وویني
دا له سوزه ډکه یارانه زما
وینونه زرغون مې پس له مړینې نه
ګل به وي پر قبر نښانه زما

شي به مې بلبل بیا مجاور زیاره ،
وایي بـه د مینې تـرانه زما!

کب ، ٤٢ (ګلړه نړۍ)

د سباوون پلوشې

مه يې ګڼه د سباوون پلوشې
دا دي زما د زړه چاودون پلوشې
پر مړخپنو ارمانونو مې نن
ووري د هيلو د ژوندون پلوشې
د اسماني ميني له خنده څلي
زما د وينو پر جيحون پلوشې
د تورو وريځو تورتمو کې پټې
شوې راستيکاره نن د پرون پلوشې
چې مې بهير ته د غورځنګ شي مشال
شته لا د تير کاروان د يون پلوشې
تياره ماحول ته رڼا را ولي
د روښانفکرو د سمون پلوشې

اخر به ګرمې هنګامې کړي زياره ،
ستا د رنګين شعر د مضمون پلوشې !

حصارک : ۲۷ - ۱ - ۴۳

د مینې درد

څو مې سنګلی یار غیږې ته را نه شي
درد زما د مینې به دوا نه شي
بې له یارانې ځنې ژوندون خو به
وبه شي د بل چا ، خو زما نه شي
ورځې د خوښۍ وې ، ولاړې تیرې شوې
شپې د اندیښنو به مې سبا نه شي
وزغملې ډیرې مې ناخوالې ستا
نور سره رقیبه زما او ستا نه شي
سرته به ونه رسوي مینه څوک
سرې څو له تن ځنې جلا نه شي
کوم ساز چې جوړ کړی ماله خپل سوزه
هسې ساز به بل چیرې پیدا نه شي
څـوک به بریالی نه شي په مینه کې،
څو پکې د زیار غونډې رسوا نه شي!

۱٤ - ۳ - ٤۳

ستا ښکلا

لکه څنګه چې ښکلا ستا بې سینګاره ښه ښکاريږي
هسې دنګه نرۍ غاړه دې بې هاره ښه ښکاريږي
سرو غوټيو د سينو دې چې سپړلي سره ګلونه
دا سمسور بڼ د ځوانۍ دې بې بهاره ښه ښکاريږي
رانه هيرې چې له مخې ستومانۍ د بیلتانه کړي
ما ته ستا د مينې غيږه له ګلزاره ښه ښکاريږي
دا انځور پکې لويدلی د سپيځلې خيرې ستا دی
چې له هومره صفايي ځنې هنداره ښه ښکاريږي
هر يو تاب يې که هر څومره لاينحله معما ده
د نوم غوټه دې نافې غوندې تابداره ښه ښکاريږي
ستا نرۍ ختلې ونه جوړه څانګه د نښترو
رسايۍ کې له شمشاد ، سبرو چناره ښه ښکاريږي

وزر مات مرغه د خيال مې ، که ښکار شي په غمزو ستا
ستا د ملا په نري لومه گرفتاره ښه ښکارېږي

که دې تکې سپينې ليچې دي ښاخونه د چنډرو
لکه مار زلفې دې مړې پرې بې ازاره ښه ښکارېږي

گوتې ستا ډنډر د گلو ، تيره نوك يې اغزي بوله
چا ويل دا چې گلونه بې له خاره ښه ښکارېږي ؟

چې يې ونه شوله کړلای سيالي ستا د منگولو
همدغسې د غره زرکه شرمساره ښه ښکارېږي

له نامه دې تر ورنونو چې څه وي هغه به وي نو
دلته پټ د خلقت راز دی ، بې گوهاره ښه ښکارېږي

که به غوارې دغه ستا ښکلې پنډۍ کړې له نظره
هغه سترگې تر قيامته بې ديداره ښه ښکارېږي

يوځل راشه نازولې ، درته فرش زما ليمه دي
ستا د ناز په قدمونو خدايږو لاره ښه ښکارېږي

ورځگند دې سرتر پښو نه چې ښايست نازو تمکين دي ،
بس ستا يوال ستا دښکلا کله بې زياره ښه ښکارېږي ؟

جمال مينه ، ۱۱ - ۷ - ۴۳

د عشق بلهاري

زه مین ستا په ښکلا وم لا د مخه
ژوبل زړه ستا په نګاوم لا دمخه
څه که سترګې د وفا مې اوړي تاته
روږدی زه ستا په وفا وم لا د مخه
متې نن دې پر ما ولګیدې سترګې
زه ولاړ ستا پر درګا وم لا د مخه
بلهاري زما د مینې نه ده څه ده
چې ته نه وې او زه ستا وم لا د مخه
رمز د مینې دې وحشت زما د سترګو
که نه تا سره اشنا وم لا د مخه

ننګ و نام به اوس څه پوښتې له ما زیاره،
ستا په مینه کې رسوا وم لا د مخه !!

جنګل باشي (خان اباد) ، ٤ - ٩ - ٤٣

د محبت کیمیا

وشپېلولې که رقیب د زړګي وینې زما
شوه خو په برخه کامیابي د پاکې مینې زما
د زړه پر کور مې رڼایي متې د وصل راغله
که انتظار د مینتوب کړې سترګې سپینې زما
دا هم نښان د ننګ ونام د شهادت بوله
چې په تومت کې شوې د عشق جامې رنګینې زما
د مینې لارکې سربښندل مې شول فرهاد ته سیالي
که د بې نیاز حسن انعام راکړ شیرینې زما
چیرې دیوان کې د قضا به وې نغاړلې پرتې
سبه شو په ژوند کې شوې هغه وعدې رښتینې زما
د محبت غوندې کیمیا چې مې په برخه شوله
خود په کفن کې طلایي بشره اوس وینې زما
چې هیره نه کړې پام کوه د اشنا مینه زیاره ،
پاتې یادګار به وي همدغه بس له مړینې زما !

ننګرهار ، ۲۵ - ۱۲ - ۱۳٤۳

نوی کال

زړګوټي ستا شه نوی کال مبارك
لومړی سپرلی دې د وصال مبارك
ستا د ماضي د ناکامیو په یاد
ستا د کامیابۍ مینې حال مبارك
په زیروبم د زړو هیلو کې ستا
نوي آهنګ ونوی تال مبارك
د نوي ژوند له ولولو سره دې
دا نوی فکر و نوی خیال مبارك
د پښتونخوا د هسك پر هسکو څنډو
ستا د احساس نوی هلال مبارك
چې پلوشو یې زما ژوند کړ رڼا
پر ماشو ستا رنګین جمال مبارك
د وطن لار کې غواړي زیار تا لره ،
تمامي عمر په هرحال مبارك !

نوردره ، ۱ - ۱ - ٤٤

د مینې شهادت

ربیاره ! سلامونه ترجانان بوسه زما
د وصل ارزوګانې ارمغان بوسه زما
د مینې شهادت مې چې باور کړې نازولې
په وینو سرې جامې ورته نښان بوسه زما
په سرو اوښکو رنګینې او د زړه په مراندو نغښتې
غوټچې د امیدونو او ارمان بوسه زما
له لاسه د رقیب د بریالۍ مینې سند مې
پرچې پرچې د زړه د امتحان بوسه زما
اغیز د لیونۍ مینې له ښاره وایستمه
لیلا ته خاطرې د بیابان بوسه زما
له سترګو به دې ځار شم او په ښو کې به دې خاورې
له سوزوو سازه ډك د غم بیان بوسه زما
لمبه په ننګرهار کې د بیلتون له اوره زیاره ،
حضورته یې داغونه د هجران بوسه زما !

حصارك ، ۱۰ - ٤ - ٤٤

يوليك

چې مدام سره يوځای وای زه او ته
په نړۍ کې به وای غوره تر دا څه
لا مې داغ ستا د وداع دی پر زړه پاتې
لا مې سره دي په ژړا دواړه ليمه
لکه باد چې د خزان پرګلو راشي
زه رژيږم هسې ستا له بيلتانه
ياد د مينې دې زما له زړه ، نه وځي
يادوم دې ، يم پر سمه که پر غره
خدای دې نه کړي که به ته شې له ما هيره
وي له تن به مې د روح هله واته
ستا د مينې ولولو باندې قسم دی
که به يو ساعت ارام يم بيتا زه
شي به تير اخر دا وار د بيلتانه هم
تيروو به څو د هجر دا ترخه

چې په ورو ورو دغه ليك پرانيزې ګرانې ،
پکې نغښتې دی د زيار ځپلې زړه !

ښارك (غور) ، ٧ - ٧ - ٤٤

د انتظار شیبې

نن بیا په یاد د ښکلي یار ژاړم
لکه بلبل تللی بهار ژاړم
چې پکې پاتې دی اشنا را ځنې
په یاد د هغه خپل دیار ژاړم
که رسوا کیږي پټه مینه مې هم
اختیار د زړه دی بې اختیار ژاړم
که نور کوي د بیغمۍ خوبونه
زه ټوله شپه ویښ تر سهار ژاړم
د سپیلني په دود شوم دود وریسې
د سونګ شیبې د انتظار ژاړم
سر په سلګو لکه نیمزاله شمه
د ارمانونو پر مزار ژاړم
• ځو مې په خپل لاس اوښکې وچې نه کړي،
ترهغه وخته به زه زیار ژاړم !

فریبورګ (سویس) ، ۱۳ - ٦ - ٤٥

چې ته راشې

پر لیمو به مې رڼا شي چې ته راشې
ټول دردونه به دوا شي چې ته راشې
بیلتانه مې ښیراز ژوند خزان کړ
پسرلی به بیا پرما شي چې ته راشې
د نړۍ غمونه ټول که اوس زما دي
خوښۍ ټولې به زما شي چې ته راشې
شي را تاندې به مې بیا مړ ژواندې هیلې
نوی ژوند به پرما راشي چې ته راشې
چې ته نه یې سا مې نشته په بدن کې
ستا بدن به زما سا شي چې ته راشې
سوز د هجر مې د وصل ښکلی ساز او
ولولې به په نڅا شي چې ته راشې
تردې غوره به لا نور څه وي زړګیه ،
ته د زیار شې او زیار ستا شي چې ته راشې !

فریبورګ (سویس) ، ۸ - ۹ - ۱۹٦٦

مسلمان زرګی

زما له خوانه کومې خواته درومې
زه دې اشنا ، ته نا اشنا ته درومې
ته د لویدیځ د هڅا به بناپیرۍ
وحشي کبلۍ غوندې بیدیا ته درومې
د مسلمان زړګي ازار چې اخلې
څه شول په دې چې کلیسا ته درومې
د یوه زړه په غلا دې زړه یخ نه شو
چې لا د نورو زړونو غلا ته درومې
لږ خو څه خوند د یوې مینې واخله
څو به د یو او بل درګا ته درومې
د نایټ کلپ له پیشپو ستړې لا نه یې
چې د اوپرا وبال نڅا ته درومې
ګوره ، د زیار خو دا یو سوال کړه ځواب ،
چې له ما درومې وایه چا ته درومې ؟

سویس ، ٤ - ٣ - ٤٩ (٢٥ - ٦ - ٧٠)

د لیک ځار

د لیک په ځار کې مې مودې تېرې شوې
ورځې او شپې څه چې ، هفتې تېرې شوې
ولاړې شنبې د یکشنبو په هیله
لکه شنبې هم یکشنبې تېرې شوې
سترګې پر لار چې دوشنبه به راشي
څو دوشنبې او سه شنبې تېرې شوې
هم چارشنبې او پنجشنبې او جمعې
راغلې خو هسې بې اسرې تېرې شوې
د تن سبا په انتظار کې زیاره ،
ستا د ځوانۍ خوږې شیبې تېرې شوې !

سویس ، ۸ - ٤ - ۱۹۷۱

د مینې تنده

د راتګ لار دې وڅارمه که نه
ستا هرکلي ته وناځمه که نه
بلا دې واخلم چې له سترګو لوړې
درسره درد بیا وویشمه که نه
د بیلتانه د هڅ ماتۍ په تسل
کلکه دې غېږکې وځېیښمه که نه
لکه پتنګ دې د ښایست په شغلو
لوګی خو شوم چې لمبه شمه که نه
د پردیسۍ له غم لړلو شیبو
درته مې ډك زړه وسپړمه که نه

مغ خو دې گل دی چې بو بل گل دې هم
تهٔ د پاسه وټومبمه که نه
د څلمو پیغلو ازادۍ په نامه
پدل د غلا مینې مات کړمه که نه
خوا مې سېځي په کتو کله تش
لاس دې له غاړې ونغاړمه که نه
هسې خولگیو باندې نه مړبوم
دربانډې خوله ولگومه که نه
نظر دې واچوم گرېوان کې ښکته
لږ له ادبه درتیر شمه که نه
په کنډول نیم زهٔ مستیدلای نه شم
په سرغونډ مټ را واړومه که نه
چې د وصال هره شیبه شي غزل
بیا دې ښکلا پرې وستایمه که نه

دا وې غوښتنې او پوښتنې د زیار،
وایه چې نور څه ووایمه که نه ؟

میلان (ایټالیا) ، مارچ ۱۹۷۲

د زړه سېپړی

نورې دې پرمخ باندې کوڅې‌مه ماتوه ...
زړه مې پکې سبکيل دی ، دا کړې‌مه ماتوه
ناز نخرې منمه زه ، چې ډېرې زده دې ستا ...
ماته به مې ملا کړې ، ملا نورې‌مه ماتوه
اوښکې مرغلرې مې ، چې ماتې شې پرمخ ...
هسې مې د ژوبل زړه ، سېپړې‌مه ماتوه
ښه ده پښتنه مينه ، چې پالو يې په غلا تل
زوړ دود د پښتو ، پښتونولۍ‌مه ماتوه
کړې توپانی چې ، ستا د مينې سمندر ده ،
ګرانې پام د زيار د ژوند بېړۍ‌مه ماتوه !

۱ - ۱۱ - ۵۲

د جنت گلونه

بيا د شهيدو ارمانو له وينو
د سرو سرامنو کونډو ورنډو اوښکو
بيا له ويلوب د پرهرژلو زړونو
شول له مړو خاورو را اوچت گلونه

دا د خيبر د ياد وياړلي څلي
دا د سنگر د سرښندنو رپې
دا د وربل د فاضلې ميړانې
دا د شملې پښتني پت گلونه

چې پرې دښتونه سره لمبه ښکاري ټول
بلې ډيوې د سرو غاټولو غوټۍ
سره د زردشت د اورتونو ننداره
دا دي په سرو وينو لت پت گلونه

په بلهارۍ مې خپل برخليك كړ رنګين
لمن د برم مې له سرو ستورو ډكه
تورې تيارې نهيلې شپې مې رڼا

شول مې د هسك پرځنو جوت ګلونه

چې وصال راته زخمونو د ژوند
شول ګلكخونه مې داغونه د زړه
چې سرو تناكو مې سپرلي وسپړل

راځنې هير شول د جنت ګلونه !

برلين ، ۲۳ - ۳ - ۸۵

ځلا

پر زمولې پسرلي مې نن زرغا خوره وره ده

د گلبڼ پر سپېرو شونډو مې موسکا خوره وره ده

هسې نه ذي گلبڼونه مې د پيغلو ارزوگانو

دا هيښمه د شنو شيبو مې پر بيديا خوره وره ده

شنه توتيان ورته را درومي بيرته بيا په مينه مينه

نن سبا په دغه باغ کې که غوغا خوره وره ده

د تبجنو گورو وريځو په تك تور تياره گوگل کې

دا زما د تکلونو سره برېښنا خوره وره ده

لکه څومره چې ناپای مې دی لرليد د ارمانونو

همغومره مې ورشو د يون ځغلا خوره وره ده

دا زما ليونۍ مينه بې اغيزې هم مه بوله

لورا لور که انگازه ستا د سبکلا خوره وره ده

دا مې اوښکې ځځېدلې له ليمو د توري شپې نه
پر ګلپاڼو مې كه پرخه د سبا خوره وره ده
سر مې ټيټ د زمانې د بوډو شونډو ښکل ته نه کړ
كه هرڅو مې د زخمي زړګي دنيا خوره وره ده
د بلهارو تلوسو د اسويلو پر څڅېړو مې
د هستۍ د لمر له حسنه نوې رڼا خوره وره ده

وېښيل مې چې دانه دانه الماس پکې د هار ستا ،
هره خوا مې د رنګين شعر څلا خوره وره ده !

٢٠ - ٥ - ٦٦

پېيلي امېلونه

د بهو له څوکو زما که ، الماسونه شول راتوی
خو دا ستا د برم له هسکه ، هم لالونه شول راتوی
سینه سپر ورته ولاړ یم ، ځای پرځای لکه غر هسې
که پر ما د تورو لړو ، بهیرونه شول راتوی
ماهم ټیټې ورته سرنه کړ، له ډېر نیاز څنې په پښو کې
که پرما یې له اورشیند ، د ناز اورونه شول راتوی
جوړ په سترګو کې د مینې ، خو زما اغزي اغزي شول
له ګلخانګې د ښایست یې ، که ګلونه شول راتوی
له هر څانګکي سره یوځای مې ، د سرو سرامنو اوښکو
ترمې ترمې رژېدلي ، ارمانونه شول راتوی
مال چې هیلې مې باغ باغ شوای ، په ګلیون د پسرلیو
خو زما د ژوند لمن کې خزانونه شول راتوی
هیڅ خوښۍ را پخلا نه شوې ، چې مې وویشای پر نورو
بس د مینې په څولۍ کې ، مې غمونه شول راتوی
دا ښکالو مې شې تر غوړ ، د هغو تیرو لوریینو
که د ذهن پر ورشو مې تیر یادونه شول راتوی
ګوندې شي مې غندل غاړې ته پېيلي امېلونه،
څه که اوس دانه وانه دا مرجانونه شول راتوی !

کارل مارکس ښار ، ۲۸ - ۷ - ۸۸

د باور وړانګې

هسې سرې وينې که بريښنې ستا په وړاندې
دا سپرغۍ مې په رګو کې دي بهاندې
مينه وړې تلوسې مې دي لاهسې
په بيديا د نهيلۍ کې لالهاندې
چې مې توره شپه په ويښه ورونله
شوې پيرونې د ښايست مې وروېځاندې
پرې به ښکيلې انديښنې د زړه ماران کړم
که په لاس راغلای يوځل د زلفو پياندې
نن سبا به شي سپرلی ، ګل وبلبل بيا
ځووبي به نور نه بولي د وير ساندې
د مينو زړو مشال دی د ګلپاڼو
چې د باد په يوه ربړه وي رپاندې

پرې ! لاهو مې پرې غمونه د زړګي شي
که مې اوښکې دي پرمخ باندې څپاندې
هر یو تندر د اسمان ته تندی نیسم
نه چې کینم ورته لاس تر زنې لاندې
ما په سرو شهیدو وینو د بلهارو
زمول غوټۍ د سره ارمان کړې بیا را تاندې
ویې نه شوم اړولای له خپل هوډه
که هرڅو وازمایه زور رقیب را باندې
لا مې زړه کې د سبا زړی زرغون دی
که دښنو را وریېلې د زړه مراندې
د ښایست ناز به ستا هم تلپاتې نه وي
که پر نیاز زما د مینې ته نن خاندې
لا ګوګل کې د ارمان مې دومره بریښ شته
چې مې وړانګې د باور ساتي ځلاندې
چې په ژوند کې د هیچا تر پام رانغلم ،
پس له مرګ څه ، که مې څوك د رناوی کاندې !

۶۷ - ۹ - ۲۵

د مينې بريا

ډېرعمرونه واوښتم را واوښتم
هسې پر بې مينې اشنا واوښتم
ما خو د وفا لار هيڅ پرې نه ښووه
هرڅو که د يار پر جفا واوښتم
ښکيل مه شه بل څوك په تورو زلفو کې
زه چې پردې تورې بلا واوښتم
نور د ښارو ښېيار را سره څه لري
زه د ليونتيا پر سارا واوښتم
وڅڅېدم څه که له ليمو د شپې
نم شوم پر ګلبڼ د سبا واوښتم
ما ويل څه شور زوړ به د بلبلو وي
خوشې د ځنګله پرچوپتيا واوښتم

ما ورته زړه ورکړ ، دې خوله رانه کړه
څه پر یو اړخیزه سودا واوښتم
زه ساده پاك زړی هسې وغولیدم
تیر کې پر چل ول او ریا واوښتم
بس چې تل سپین تور او تور سپین وبولم
هسې پر روا ناروا واوښتم
تږي ارمانونه مې خړوب خو شول
څه که پر سنورنه بیدیا واوښتم
نه شوم که پولاد خو ایره هم نه شوم
دا چې پر اور واوښتم را واوښتم

راکړ زمانې چې په خپل زړه کې ځای ،
مینه کې پرهسې بریا واوښتم !

مرغومی ، ۱۳۶۷

د ګلو پر اوږو

پرخه څلیږي پر بڼو د ګلو
که اوښکې ووري پر اغزو د ګلو
ته واېه شپه کې ستوري وځلیدل
چې سیوری پریوت پر کمڅو د ګلو
د وخت د تور وحشت نیلی دې ګوډ شي
چې را لتاړ یې کړه ورشو د ګلو
چې تارو مارېې کړي رنګین خوبونه
مه شه خزان پر بنجرو د ګلو
چې پرې خاچونې د چمن شي ویرجن
خدایه رامه ولې مرګو د ګلو
نور د مالیار پرمخ به څه پاتې شي
چې تالان ګډ شي پر باغچو د ګلو

د زړه ارمان به نور د چوني څه وي
چې شونډې کیږدي پر بارخو د ګلو
څه ګه مې یون دی د اغزو پر سیمه
په زړه کې پالم لا ارزو د ګلو
لکه نم څاڅم که د شپې له لیمو
((خو بار به نه شم پر اوږو د ګلو))
که مې لمن د باور تشه ده نن
ژربه شي ډکه له غونچو د ګلو
بارانه اوره په شیبو واوره
چې لګي اور پر کروندو د ګلو
ورته زنځیر د سنبل زلفو بویه
بلبلان مست شول په وږمو د ګلو
شونډې کوکیږ، سترګې ګلونه راوړه !
چې پسرلی شي په راتلو د ګلو
مرجاني هیلې به مې ګل شي نورې
که راغی وار د غوړیدو د ګلو

بلهارې وینې پرهرونه به مې،
نور شي بدل په سرو بڼو د ګلو !

۱۴ - ۱۰ - ۱۳۶۷

بلې ډېوې

دا کوڅې ستا پر سپین مخ خورې ورې شوې
که زما پر سباوون تیارې خورې شوې
ستا د سترګو د خیال سیورې چې پرې ولوېد
پر ورشو مې د ارمان تورې تیارې شوې
ستا د برندو کتو ټکه نه وه څه وه !
ورسره مې چې اسرې خاورې ایرې شوې
در پسې شوې دا دې خپلې بنیراګانې
نه چې زما دعاوې تا لره بنیرې شوې
چې ترکلې تللې ستا د اداګانو
هغه لارې زما ستا ترمنځه پرې شوې
د ماښام له تیکې تیغ د هلال ووت
د هسک مورګې د شفق په وینو سرې شوې
چې ورتلل په سرو لمبو لکه اور پښتې
په هغو بلهارو ډکې هدیرې شوې
چې د مینې د محفل بلې ډیوې وې
خاورو لاندې څه ښایسته ښکلې خیرې شوې
بیا به وسپړي رېږي د سرو ریډیو،
که په سرو وینو خړوبې مې میرې شوې !

زیار ، ۱ - ۱۱- ۱۳٦۷

د کوڅې کاڼي

نن مې دی یون ستا د ښکلا ترکلي
ستا د مکیز نازو ادا ترکلي
نوره نغاړم د لیونتوب په نامه
سپیره بیدیا ستا د لیلا ترکلي
په بدرگه ستا د سپین مخ د سپیدو
د زلفو شپه ورم د سبا ترکلي
ما تل منلې ده د سر پر سترگو
اغزنه لار ستا د وفا ترکلي
ستا د شهید خیال د ښکالو په لټون
ما خپل لیمه کړل ډیوې ستا ترکلي
پرې د کوڅې کاڼي را واوري ستا
درځم د سرپه بیه بیا ترکلي

په گډه وینه دا کرلي لار به،
وسپړي گل ستا او زما ترکلي !

۲۹ - ۱۱ - ۱۳۶۷

گل پرهرونه

دا گلمخې د کوڅیو ولونه سپړي
که گلبڼ زما د ژوند گلونه سپړي
څه به ژاړم دا تازه گل پرهرونه
په مالگین مکیز مې روغ داغونه سپړي
که هرڅویې راته گل پر زړه اغزي شي
سخ پر دا چې مې رغځي باغونه سپړي
چا ویل چې توبې وینې مې توی ولاړې
پسرلي مې دا سپیره ډاگونه سپړي
که شوې پورته جنازې مې د ریدیو
دا میرې مې ډېر لاله گلونه سپړي
که هرڅو مې پتوم مینه په زړه کې
خو سرې اوښکې مې د زړه رازونه سپړي
خدایزده څه کړي بیا د وخت صیاد پرما نور
چې له پښو مې تاو راتاو دامونه سپړي

نوې مینې سره هرڅه نوي بویه ،
زړه مینه بـه زاړه غمونـه سپړي !

۱۶ - ۹ - ۱۳۶۷

د پلوشو بهیر

چې پسرلی پر غرو رغونه راځي
باغ مې د زړه په غوړېدو نه راځي
ګونډې د لمر پرښار پرېوتې ټکه
چې ترې بهیر د پلوشو نه راځي
خورې ورې تورې تیارې هره خوا
تللی کاروان بیا د سپېدو نه راځي
نه چې تالان دی پر باغچو ګډ شوی
چې قافلې ترې د وږمو نه راځي
پرلېونو د مینې بیا څه وشول
چې نورېې شرنګ د زولنو نه راځي
لاېې پر مخ د د نیت ګردونه پراته
که یې تر غوږه د ښېښو سنکالونه راځي

لیك په غمي کې د ستر ګلین خو دې شوم
که سره یاقوت مې له لیمو نه راځي
رباب پریوتی دا دم له لاس هم
شور د ګونګرو که د درخو نه راځي
که را په برخه د جهان خوشبۍ شي
وار د ځوانۍ د ورځو شپو نه راځي
د زړه براس مې د هندارو اوښکې
که مې سروب پر اننګو نه راځي
دا سره رڼې دې د بلهارو ژبې
څه که اواز له هډېرو نه راځي

چې ستا د یاد غوټۍ ګلونه سپړي،
چا ویل موسم د ګلکځو نه راځي !

۲۳ - ۳ - ۱۳۶۹

ليرږد

پرې ږده ما يوځلې شونډې ستا پر شونډو کيږدمه
مخکې له هغې چې دا وطن ستا په سر پريږدمه
ما د مينې بڼ د زړه په وينو خړوب کړی دی
څه که دې ورېل کې ګل زخمونه د سينې ږدمه
زه هغه نيمزالې شمه نه يم د چوپتيا د شپې
تش په يوه ربړه چې د وخت د توپان ريږدمه
زه لکه ليکپانه تکه سپينه نالوستلې شنه يم
پريږده چې همداسې پته خوله درځنې بليږدمه
کور کلی پرما باندې سور اور شو نور ...
دا چې مې پر سوو ارمانونو باندې پښې ږدمه
پرې چې د پښو پرځای تنهاکې مې په پښو اوسې
پيتی به د ژوند د خپل برخليك پر اوږو کيږدمه
بيا مې هم باور دی ، پر راکښون د پاکې مينې ستا،
څه که لرې لرې هيوادو ته درنه ليږدمه !

جلالکوټ ، ٢٤ - ٦ - ١٣٦٩

غزل

دا ښایست مینه پورې تـه غاړې وځي
که بلبل په بڼ کې ګل ته غاړې وځي
تورو څڅو کې چې سپینې لیچې نغاړي
ته وا سپین چنډ سنبل ته غاړې وځي
لکه شپه او ورځ چې شي سره همغاړي
هسې سپین مخ ستا وربل ته غاړې وځي
څنګه نه وي دا ګلبڼ تک سور په وینو
څوز د ګل پرځای بلبل ته غاړې وځي
هغه ګل به څه ګیله له دې چمن کړي
چې پیرو ته یې غندل ته غاړې وځي

چې را څیلمه تیر یادونه د ځوانۍ شول ،
مات قلم مې بیا غزل ته غاړې وځي !

جلالکوټ ، ۲۶ - ٦ - ۱۳٦۹

سره غمي

چې پر خول څرخي د برم څمکه اسمان مې
ولې نه وي واکمني پر درست جهان مې
یم بې رویه بې ریا لکه هنداره
مخروڼی او سپېڅلتیا لکه باران مې
سره غمي پکې سکڼلي د سروب ما
که جړ اووینې ریښې ریښې ګریوان مې
دا اغیزه ستا د مینې نه وه څه وه !
چې شو سر د لیونتوب پر چول بیابان مې
بې څوانۍ نور څه لرل ما په نړۍ کې
چې کړای خاورې ستا د یو ((هو)) په ارمان مې

په شیبو شیبو اوریا یې هسې نه ده
خواخوږي کوي په سرو سترګو اسمان مې
یم بې نیاز د پسرلي له سرو ګلونو
پرهرونه د زړه خاندي پر خزان مې
چې دا غلی یې پر زړه لکه لاله یم
اشنا څه کړي نور لټون د نوږم نښان مې
هله ما کړې نورې مینې واړه هیرې
چې په مینه کې ځان بیا موند د انسان مې
متې پوه په سود وزیان د ځان جهان شوم
چې له نورو سره ګډ شو سود وزیان مې
شوم شکمن غونډې پرخپل اورني شعر،
((چې لا اوربل شوی نه دی پر دیوان مې !))

۱۶ - ۱۰ - ۶۹

د سهار پر اوږو

دا خپل ژوندون شو راته بار پر اوږو
تر وژنځایه ورمه دار پر اوږو
نور بې توپیره په خوشبیو کې ډوب
ما ته غمونه ټول انبار پر اوږو
لکه ضحاك اسـطوره نه یم دګر
چې ګرځومه د ((زه)) مار پر اوږو
لږ مې درنښت ته د تابوت وکړئ پام !
چې ړدئ بیوار یې د مزار پر اوږو
پرېږده چې ستا سنګلا ته غاړې وځم
ولې مې زړه وړې د ازار پر اوږو

ډېر دې کړ بس ، سوی الوی راته
څومې ځيګر بړدې د انګار پر اوږو
د شپې له سترګو څڅېدلې پرخه
تر هسکه ليږدم د سهار پر اوږو
چې په ليمو يې د پښتو خاورې سنګل کړم
سترګې پر لار د انتظار پر اوږو
هسې دې زلفې پر اوږو پرتې دي
لکه ګلونه د بهار پر اوږو
په وينو دې منګولې سرې د نورو
ورمه يې زه د ګناه بار پر اوږو

بيا بې هم تيتې د غم پيتى نه کړي،
شي که هرڅومره درون د زيار پر اوږو !

۱۷ - ۱۰ - ۱۳۶۹

سکنلي زخمونه

که پسرلی غوټۍ ګلونه سپړي
دغه د خپل زړګي رازونه سپړي
دا غاړې غرونه به لالونه شي ټول
چې سره لاله لکه لالونه سپړي
کړل دا ډاګونه د چا وینو خړوب
نن چې تك سره ریدي ګلونه سپړي
د نوبهار غاټولو دښتې سرې کړې
که بیا زردشت مره اورتونونه سپړي
څنګه به نه ووري باران د مشکو
چې د مشکینو څڼو ولونه سپړي

چې کړې يې زلفې پر سپين مخ راخپرې
دا ږدي دامونه که دامونه سپړي
ځکه به نور هم ناسوريږي پسې
مالګين مکين يې پرهرونه سپړي
چې يې سکڼلي په بڼو وو راته
په هغو غشو مې زخمونه سپړي
د خپلې مينې ښې ګوري پکې
دا چې زما د زړه داغونه سپړي
ستا د زړې مينې يادونه مې بيا
څه نوي نوي ارمانونه سپړي
ديون تکل مې سرو بڅرو پسې
لا د اورغالو خوګلنونه سپړي
د نهيليو خزانونه زما
د تاندو هيلو بهارونه سپړي

شي به وطن ټول پسرلی پسرلی،
بلهارې وينې مې ګلونه سپړي!

ننګرهار، ۳۰ - ۱۱ - ۱۳۶۹

د بیلتانه شیبې

څوک نه لرم بې تانه ، ما مه پرېږده یوازې
پرخدای رو مرم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
سودا کې ستا د مینې ، هیڅ رانغله په لاس مې
چې مرگ پیرم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
که اوښکې مرغلرې ، راځي له زړه سیپۍ چې
وریا پلورم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
شوگیر لکه شبنم کړم ، شپه تږوله ستا پرگل مخ
پر تا وورم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
چې ته به پرې راتللې ، زما د رنځ تپوس ته
آ لار څارم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
د زړه پر کروټده مې ، زرغون به نور څه نه شي
پرې غم کرم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
شیبې د بیلتانه دې ، تیرېږي لکه زهر
دا زهر خورم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې
چې نه اخلې خبر یې ، نو دا بې وزله زیار به ،
پرچا سپارم بې تانه ، مامه پرېږده یوازې !

ننگرهار ، ۲۹ - ۱۲ - ٦۹

د غزل امیل

تا چې ګل منځ کې د وربل پییلي
لکه په ګل کې دې چې ګل پییلي
لکه چې نغښتي تور ماران وي سره
هسې دې څنو کې سنبل پییلي
مینو زړونو ته دامونه دي جوړ
دا چې دې زلفې الوول پییلي
دا دي زما د سرکو اوښکو یاقوت
تا چې پروکې د چارګل پییلي
دا پکې ځلي د تندي خولې دې
که لال دې ولو کې د کاکل پییلي
کړي چې جړاو ستا د کمڅو پییوي
اوښکې بانه مې یو له بل پییلي
ځارشم له تا چې د بڼو په ستنو
راته ریښې دې د ګوګل پییلي
راته په سترګو کې دې مرګ ته زما
یو له بل نازو تغافل پییلي

دا دي د مینې انځورونه زیاره،
چې دې امیل کې د غزل پییلي !

۱۰ - ۷ - ۷۰

د شونډو نڅا

خیال د شونډو مې د چا پر شونډو ناڅي
چې مې هسې سره ځلا پر شونډو ناڅي
چې په مینه یې خوب د مینې راکړ
مینه مینه نن زما پر شونډو ناڅي
زه د مینې کیسې لولم ستا ککو کې
په دې څه که دې چوپتیا پر شونډو ناڅي
ښکاري مټې مې ځای وموند ستا په زړه کې
دا چې نوم مې نن دا ستا پر شونډو ناڅي
ستا پر سترګو مې قسم ، که به هیڅکله
بې له تانه مې خندا پر شونډو ناڅي

چې مې وا لکه غوټۍ په شونډو نه شوې
دا دې ناز که دې حیا په شونډو ناڅي
دا په ښو کې درته خاورې ما هستي کړه
له خوښۍ دې که موسکا پر شونډو ناڅي
ټولې نازو کرشمې دې شوخې سترګې
که له مینې دې ادا پر شونډو ناڅي
که د وصل په ارزو مې عمر تیر شو
لا مې هغه تمنا پر شونډو ناڅي
په څمبا کې دې د سترګو څه جادو دی
دا دعا که دې ښیرا پر شونډو ناڅي
ورسره چې زما شونډې شوې میګونې
څه نشې دې د صهبا پر شونډو ناڅي
وزمولې که څه هم د وخت سیلیو
ښیرازې مې د سبا پر شونډو ناڅي
دا د چا د مینې یاد مې پر زړه ووري،
چې نغمې مې هسې بیا پر شونډو ناڅي !

۹ - ۹ - ۷۰

د مينې برخليک

چې مې کله خپل ښايسته ښکلي جانان غېږې ته راشي
ګنه ښکلي مې يو مخ د ټول جهان غېږې ته راشي
په لمر مخ مې توره شپه د بيلتانه رڼا رڼا کړي
ته به وای سپينه سپوږمۍ چې د اسمان غېږې ته راشي
پر اغزن بستر د مينې هسې خول ماخول پرېوتی
لکه ورانه بړبوکۍ چې د بيابان غېږې ته راشي
مړغړانو ځپانو يم د وختو هسې ښکېل کړی
لکه ماته شان بېړۍ چې د توپان غېږې ته راشي
شوې مې داسې ترمې ترمې مينه وړې تنکۍ هيلې
لکه تاندې ګلغوټۍ چې د خزان غېږې ته راشي

متې وشميرم به ځان په ليونيانو کې د مينې
چې ليلا زما د مينې د ارمان غيږې ته راشي
په راتګ يې په نڅا شي زما زمولې ارزوګانې
جوړ ښيرازه پسرلی چې د بوستان غيږې ته راشي
د ښايست په سمسور باغ کې غوړېدلې لکه ګل وي
که څه هم په خوله خندان وي ، خو پرېشان غيږې ته راشي
څه ارمان به بل تر دې د زليخا پر زړه شي پاتې
چې په خوب ليدلی يار يې د کنعان غيږې ته راشي
چې په څوزو خپل لټو کانډې خاچړنې څيرې وېرې
نو يې هله سره غونچه څيرې ګرېوان غيږې ته راشي
شې به خلاص له نومورکيږنه په نړۍ کې هله زياره،
چې د مينې برخليك ستا هم د زمان غيږې ته راشي !

۲۲ - ۹ - ۷۰

د برچو پر مخ

دا رنبوب يې د خولو پر مخ ځليږي
که پيروی د شودو پر مخ ځليږي
زړه چاودون د توري شپې نه دی نو څه دی
چې سپين داغ يې د سپيدو پر مخ ځليږي
چې منلی په ليمو مې ، نو پروا څه
که برخليك مې د برچو پر مخ ځليږي
مخسوروتی له بتۍ د ازمون بيا هم
که مرگ ژوند مې د شيبو پر مخ ځليږي
پر بارخو يې رڼې اوښکې را رغښتلې
لکه پرخه د غونچو پر مخ ځليږي

پر سپین مخ یې روڼ سروب دی رامات شوی
که کوبی‌دي د اوښو پر مخ څلیږي
دښایست لمر یې راخوږ شو ، رڼا ورځ شوه
چې یې ورانګې د آیینو پر مخ څلیږي
دا لاله د چا له وینو تولکیدلي
که لالونه د میرو پر مخ څلیږي
ګڼه سرې بلهارې وینې د ادم دي
هغه سره چې د درخو پر مخ څلیږي
د شپه روڼو د بخت ستوري یې ویوله
چې د هسک د تورو شپو پر مخ څلیږي

هر غـزل مې آیینه د پاك ارمان ده ،
که د خیال د انځورو پر مخ څلیږي !

۲۵ - ۹ - ۷۰

مرمرین مړیستون

یار له یار ځني جلا شو ، دا د چا په لمسون هسې
تر دا منځ د اوښکو وینو ، نیز چې راوړ بیلتون هسې
که نور وژني رقیبان او ، زه وژلی یم یارانو
دا د وینو اباسین دی ، که بهیږي جیحون هسې
یوه ورځ ګونډې زما پر ، بیګناه مرګ شي پښیمانه
باوري یم ، ستا هیر نه دي ، دا د سنګلو قانون هسې
د عطرو پرځای مې وینې ، د نارنج له پاڼو څاڅي
چې خزان ویرغالل مې ، پروادي د زیتون هسې
له اغزو ډکه لمن دې شه له مرګه یه پاڼریژه !
چې دې وکړ په دې باغ کې د غوټیو للون هسې

اورنی‌مینې پر ما کړې داسې شانته لمبې بلې
ورته تاو رسیدلی نه شي ، د رزدشت د اورتون هسې

چې د ژوند سپیره بیدیا مې ، پرې یو مخ شوه ګلورینه
دا له سرو شهیدو وینو ، مې لاله شول زرغون هسې

سره خالونه د سبا د ، اننګو به یې شي ځاځکي
که په سرو وینو لیت پیت شو ، زما نن و پرون هسې

چې لمبه او ایره نه شوم او لا کلک شوم له پولادو
مخسوروتی له بتی‌رنه د زمان د ازمون هسې

د اشنا مینې په پار یې ، تیروم په مینه مینه
څه که تریخ مې دی له زهرو ، دا ویرژلی ژوندون هسې

چې مې توره شپه شوګیر ، لکه شبنم کړه ترسهاره
پښې مې سنکل کړې سم له واره ، د ویلاړسباوون هسې

بلهاري په پټه خوله وي ، د رښتینو مینانو
بویه تل د مینه ورو ، پتنګانو سوځون هسې

خسروي مانی‌یې هیڅ کړه ، دشیرینې په سترګلین کې
ورته وتراشه فرهاد چې ، له تورغره بیستون هسې

بې له دې به څه ارمان وي ، د ړانده یعقوب په زړه کې
چې یې ورك یوسف شي بیرته ، بیا کنعان ته راستون هسې

پرې چې سره ریدي راوټوکي ، زما له سپیرو خاورو
جوړوئ را باندې څله ، مرمرین مړیستون هسې

زیار څه غوښتل له غـزله ، که ستا پارنه وای ختهکه،
چې ونه وایي ، ونه کړ ، بل پښتون دې غیرګون هسې !

د اشنا کلي ته

*   *   *

نه مې پرېږدي څوك د اشنا کلي ته
هغه د مينې او ښکلا کلي ته

اوس پرې د گلو پر ځای ځوز ټوکيږي
آ لار چې تله زما او ستا کلي ته

پيرې ولاړې د ليوانو دي پرې
پام چې ولاړ نه شي الونيا کلي ته

ليلا ليلا ايسي بيديا راته اوس
بيا هم روان يم د ليلا کلي ته

چې مې گوگل کې زړه ټوپونه وهي
ښکاري اشنا راځي زما کلي ته

داځه ناتار نن پر گودر گډ شوی
چې خیشته راغله په ژړا کلي ته

لکه شبنم څُم پر اوږو د گلو
د شپې له کوره د سبا کلي ته

په ویده خیاله غځوني وکړه !
یوسه پیغام د ناز ادا کلي ته

د چا د لمر مخ پلوشوسره به
راشي یو ورځ سپینه رڼا کلي ته

کاش شي پخلا چې هسکه غاړه ورشم
په مینه مینه د وفا کلي ته

پخوا به لاس تر لاسه تلو سره گډ
اوس په سرو سترگو څُم بې تا کلي ته

گوندې شي را هغه شیبه د مینې،
چې سره ولاړ شو یوځل بیا کلي ته !

۱۵ - ۱۱ - ۷۰

تتې ډیوې

که د حسن په سینګار ډیوې بلیږي
نو د مینې په انګار ډیوې بلیږي
ما کړلې دواړې سترګې یې راتلو ته
له مودو چې پردې لار ډیوې بلیږي
چې مې ناوې ته د مینې مخرونې شي
دا زما د زړه پرهار ډیوې بلیږي
په میرو کې په نامه د سرو غاټولو
ستا د حسن د بهار ډیوې بلیږي
وار د سونګ د پتنګانو بیا راغلی
چې دا ستا د سپین رخسار ډیوې بلیږي

د نتلو زړونو وینې پکې سوځي
درسته شپه چې د دربار ډیوې بلیږي
دا د کوم ناکام مین د اوښکو تیل دي
په بورجل کې چې د یار ډیوې بلیږي
چې په مینه کې شي ویلې لکه شمه
پس له مرګ یې پر مزار ډیوې بلیږي
دا دي ستوري که د اوښکو مرغلرې
چې پر هسک یې تر سهار ډیوې بلیږي
دا د پیسنو اسویلي توپاني شوي
چې نن تتې د روزګار ډیوې بلیږي
دا له پله د رقیب پاك د اشنا چم شو
چې په لاس کې د ریبار ډیوې بلیږي
زړه مې لوټ د بیلتانه تورو تیارو کړ
لا به کله د دې ښار ډیوې بلیږي
په دې ورانو ویرژړلو هدیرو کې
دا د کوم شهید په پار ډیوې بلیږي
دا مې برم د منصوري بلهارۍ بوله
تل ترتل مې چې پر دار ډیوې بلیږي
لا یې اور د سوي زړه په غرغندو دی،
پر زیارت لا چې د زیار ډیوې بلیږي!

۱۸ - ۱۲ - ۷۰

د وینو څڅوب

څاڅکی څاڅکی لکه ستوري د سپوږمۍ له جامه څاڅم
پرخه پرخه پر ګلونو د اسمان له بامه څاڅم
د څو تنو پرهرژلو وینه نه یم چې توییږم
د زخمي زخمي ماحول له اندام اندامه څاڅم
اوس به ځکه له ډیر کبره رقیبان را باندې پسېږي
چې په خیر دې د یو څاڅکي د باران له پامه څاڅم
چې د وخت په ګردلو کې شم پنا بړبکۍ نه یم
زه ښکالو غوندې دا ستا له هر یو ناز خرامه څاڅم
نور څه زبات د شهادت غواړې له ما بې غوره یاره!
ستا د تورو تورو وروځو له رنګین نیامه څاڅم

را په برخه دې ښکيلتيا کړه مخسوري د پاکې مينې
لکه عطر دې د وينو د کمڅو له دامه څاڅم
په لمبو ستا د ښکلا که لکه شمه ويلې نه شوم
د لمر مخ د څرك په شان دې له وربل ماښامه څاڅم
زه روښانه پيلامه د خپل برخليك د سباوون يم
لکه اوښکه د مهال له هيله من پيغامه څاڅم
د تلپاتې ژوند له ميو يوه ډکه پيمانه يم
نه چې هسې ورروستۍ څوېې د انجام له جامه څاڅم
شعر نه يم يو څڅوب يم ستا د زړه د وينو زباره ،
چې د سپين کاغذ پر مخ دې له خدايي الهامه څاڅم !

۷ - ۱ - ۷۱

د مینې ناکام

دا زما غیږې ته راغله سپین اندامه
که راکیوته سپوږمۍ د هسك له بامه
زه په لټه ستا د سپین مخ سباوون وم
څه غوښتل ما ستا له تور وربل ماښامه
که هرڅو راځنې ګرځې لرې لرې
د سنکالو په څیر دې څاڅم له هرګامه
تول وتال مې را پیدا په ترانو کې
ستا له کنج و له مکیز ، ناز وخرامه
دا د ژوند وروستۍ شیبې مې راشه واخله
ګوندې ووځي سا مې لږه په ارامه

لکه پرخه چې را پرېوځي له ګلپاڼې
هسې پرېوځمه زه دا ستا له پامه
چې ساقیان یې را لړي میو کې زهر
تیر له جامه د جامي ، حافظ ، خیامه
ونښتم هسې ښانګغوځ په نوي دام کې
څه که وژغوره مې ځان له زاړه دامه
د اشنا پر سیمه څه ناتار راغلی
چې سرې وینې یې څڅېږي له پیغامه
زه په خپلې ورکې مینې پسې ګرځم
زما څه د چا له کفرو له اسلامه
څوك په خوښه له خپل کور و کلي نه ځي
شوم پور ژلی ستا د مینې له ناکامه

خدایزده چیرې ګرځېده پر غرو رغوبه ،
خیال د زلفو دې زیار راکښه تر باګرامه !

پیښور ، ۷ - ۳ - ۷۱

ستا تر وزه

زه خو شپه و ورځ دا ستا تر وره راځمه
څه که دې بدو یا دې ښه راځمه
څه ښکالو نه یم د چوپتیا د ځنګله
زه د فریاد فریاد له غوره راځمه
که دې په زړه کې راته ځای رانه کړ
لکه دې اوښکه له لیمه راځمه
که دې له سترګو نه پرېوتی یم زه
همدا ده بس چې دې پرخوله راځمه
نوم د رقیب دې که په مینه اخلم
ستا تر مالته یې پر پله راځمه

که اسره نه وي ، ستا د سپینې خولګۍ
پرته له دې وایه په څه راځمه ؟
لارې یو مغ له خطرو ډکې شوې
چې ستا تر کلي زړه نا زړه راځمه
کمی د مینې مې مه بوله ګلې !
چې موده پس ستا پر کاله راځمه
دومره دې ډیر شول د سپین مخ پتنګان
که به دې خوا خاطر کې زه راځمه
دا هم د پټې مینې دود وګڼه
چې ستا تر چم په شان د غله راځمه

که رسوایي ته انګیرې له زیاره ،
دومره به نور درکره نه راځمه !

پیښور ، ۵۱ - ۳ - ۷۱

د لمر ځنې

ږدمه سره ګلان د لمر په ځنو کې
نه تېرمبم ځوزان د لمر په ځنو کې
ستا ښايست کې ورك شوم ، لکه ورك چې شي
ستوري د اسمان د لمر په ځنو کې
څه که پوناځيز شانې ذره وم زه
ومې مونده ځان د لمر په ځنو کې
زه د سرو شيبو په وزرو الوځم
ناز کړم پرجهان د لمر په ځنو کې
لکه چې ګل پاڼو کې بوی ونغاړي
نغښتی ما ارمان د لمر په ځنو کې

دا چې پکې لوبې مې د خیال ماشوم
زه ګورم جانان د لمر په څنډو کې
خدایږو چې تر لاسه مې کړ بیرته بیا
تیر بایللی شان د لمر په څنډو کې
ټول بیلتون ځپلي پرهرونه مې
شو یو مخ درمان د لمر په څنډو کې
مټې د مهال له اړو دوړ ځنې
بیا مې موند امان د لمر په څنډو کې
زه خو د خپل یار د زلفو سود کړم پرې
څه که شوم پریشان د لمر په څنډو کې
پرې غوټۍ د هیلو مې شي ګل پکې
رامه شه خزان د لمر په څنډو کې
واچوه « بوډۍ » چې رنګین ټال ځنې
راغی څه تالان د لمر په څنډو کې ؟
نور به مې ایره د نیستۍ اور نه کړي
ځلم لال په شان د لمر په څنډو کې
مینې مې د زړه په وینو رنګ راته
راکړ « لمر نښان » د لمر په څنډو کې

ځکه به مې لوني پلوشې غزل ،
تاو مې شو بیان د لمر په څنډو کې !

کابل ، ۱۷ - ٤ - ۷۱

د ګل سيوری

خوبښ يم زه دا ستا د ګل په سيوري کې
جوړ لکه بورا د ګل په سيوري کې
بې ستا د ښېښو ښکل څه ارزو نه لرم
څه به وي ګيا٥د ګل په سيوري کې
څنګه ته ښايسته تر ګله نه اوسې
ځلي دې ځلا د ګل په سيوري کې
زه د نهيلۍ د ليمو اوښکه يم
شپه مې کړه سبا د ګل په سيوري کې
ستا تر پام که ځوز ومه ، خو ګل شومه
زه ستا د ښکلا د ګل په سيوري کې

لکه په لمر ځوك کې چې شي ستوري ورك
هسې شوم پنا د گل په سيوري کې
سم ورسره زمول که کړم ، خزان څه باك
بيا ومومند ژوند ما د گل په سيوري کې
پرې ، زه ليونی يې پر سارا گرځم
خوب دې کړي ليلا د گل په سيوري کې
ځې دا پر اغزو ، زما د زړه وينې
نور که ځيې صهبا د گل په سيوري کې
وگورم ناخوالو د ماليار ته چې
را مې شي ژړا د گل په سيوري کې

ژوند مې شو يو مغ ، اغزي اغزي زيارهٔ
گوندې واخلم سا ، د گل پـه سيوري کې!

باړه گلی، ۲۱ - ۷ - ۹۲

ګل خبره

تا ماته له ناز چې لکه ګل خبره وکړه نن
ته وا ګل په غوږ کې ، د بلبل خبره وکړه نن

غوڅ خو مې ځانګونه لا ، پخوا وو ستا د ناز په تيغ
چا درته زما د نيم بسمل خبره وکړه نن ؟

ما پريشان ليدلي و ، په خوب کې لا بيګا ياره
تا که دې د خپل ، خواره کاکل خبره وکړه نن

ما خو د خپل ځان او ستا ترمينځه توپير نه پيژاند
مينځ کې مو دا چا ، د پردي خپل خبره وکړه نن ؟

آرو اصل نه ځايږي ، کله هم په مينه کې
تا که د پښتون او د مغل خبره وکړه نن

ما خو سوله بوله د وفا په نوم منلې وه
ولې اشنا بیا د جنګ مورچل خبره وکړه نن
شولې چې باغچې یې د سبکلا – مینې تالا والا
چا راته د وران ویجاړ ، کابل خبره وکړه نن
څکه به مو اور د مینې لګي د رقیب پر کور
موږه چې په مینه یو له بل خبره وکړه نن
دغه هم زما د اورنۍ مینې اغیز بوله
تا چې د خولګۍ او شونډو سبکل خبره وکړه نن
نه وی سوریدلې ، چې تر اوسه دې سرې شونډې پرې
تا راته هغه د زړه له تل خبره وکړه نن

« نه پریږدمه زیاره ، تا یوازې په غمونو کې ! »
تا خو راته ګله ، مقې ګل خبره وکړه نن !

کوټه ، ٦ – ٨ – ٩٢

محشر

سم و غر و غاړې مورګې ، د غاټول په وینو رنګ دي
کورو کلی ، چم مالت و ښار و چول په وینو رنګ دي
هم مزدك و بودتون و ، هم مغان ، پیر و مرید
میکده ، ساقي ، مینوش و ، هم کنډول په وینو رنګ دي
څه به وایم له ناتاره ، چې څوك مړه شول او څوك ژوبل
که واړه دي که زاړه دي.، خلك ټول په وینو رنګ دي
تر پرونه چې خپرې وي ، انګازې د برې برم یې
نن سبا یې تاج و تخت و ، هم خول په وینو رنګ دي
بادشاهان که ملنګان وو ، واړه ستې شول بې امانه
هم محمود و هم بهلول ، هم یې کچکول په وینو رنګ دي
دي نغاړلي بلهاریان د ، خپلو وینو کفنو کې
که خیمې دي که کیږدۍ دي ، تر پایځول په وینو رنګ دي
د محشر د لوېې ورځې ، پیلامې به نورې څه وي
هسك و ځمکه ، لمر ، سپوږمۍ او ، هم یې شپول په وینو رنګ دي
وینې ځاځې دې له ذهن و له قلم و ګوتو زیاره ،
هم دې اندو هم دې واندو ، سول و بول په وینو رنګ دي !

پیښور ، ۲۰ - ۸ - ۹۲

په سترګو سترګو کې

را مې شي اشنا په سترګو سترګو کې
جوړ لکه بریښنا په سترګو سترګو کې
برند برند چې را ګوري له ډېر کنج مکیز
ته وا کړي نڅا په سترګو سترګو کې
یو یې مینه وړو سترګو وسوم
بل یې ناز ادا په سترګو سترګو کې
راغله چې زړوره مخامخ راته
ګوندې شوه رضا په سترګو سترګو کې
ما ورنه خولګۍ په مینه وغوښته
رایې غله حیا په سترګو سترګو کې

کنځې په سبکاره مې د رقیب مخ کې
پټه کړي موسکا په سترګو سترګو کې

تور وربل پر زړه یې چې راووري
شپه مې شي دنیا په سترګو سترګو کې

سر مې پر بیدیا د لیونتوب که شو
بوینې مې لیلا په سترګو سترګو کې

چا سره چې یار په خندا ووینم
را مې شي ژړا په سترګو سترګو کې

تللې مروره چې له ما زیاره ،
کیږي مې نن بیا په سترګو سترګو کې !

باړه ګلۍ، ۱۸ - ۷ - ۹۲

PROPERTY OF ACKU 3491

د پسرلي او صميم پر ليکه :

ته به پاتې يې

توره شپه به تيره شي سهاره ته به پاتې يې
تير به منی ژمی شي ، بهاره ته به پاتې يې
مه څه گوره هيڅکله د نيمې لارې ملو سره
کړي به درنه بيله خپله لاره ته به پاتې يې
څه که لکه لال تورو ايرو کې ، د خوگلن شي پټ
دود به شي هوا کې ورك ، انگاره ته به پاتې يې
خوشې د پښتو د پرمختگ ، مخنيوی مه کړه !
رسي به دا بيا هم ، تر معياره ته به پاتې يې
دا چې ته بدلتر پيښورو ، گورو اوره شوې
زه به درنه څمه ، کابل ښاره ته به پاتې يې !
نوره دې په سترگو ، بده ورځ ليدلای نه شمه
دا دی درنه ولاړم ، ننگرهاره ته به پاتې يې !
څه که گرځوي چپه ميچنې ، نن پر تا باندې،
دا نړۍ به رنگه وي ، خو زياره ته به پاتې يې !

باړه گلۍ، ۲۰ - ۷ - ۹۲

پوهاند دوکتور زیار او اثار یې :

زوکړه : ۱۳۱۷ ل (۱۹۳۷ م) ، حصارك - مزینه - ننګرهار .
زده کړه : حصارك ، کابل ، سویس (د پوهنو دوکتورا ، دیفل) .
دنده : د کابل پوهنتون د پښتو ژبپوهنې او ادبپوهنې استاد .
نورچاپ اثار : پښتو ویي پوهنه ، پښتو پښویه (ګرامر) ، پښتو لیکلار ، پښتو شعر څنګه جوړیږي ؟ ، زنداني نغمې ، وینه او مینه ، اندو ژوند ، سوزونه او سازونه ، ګلکڅونه ، ګلولې ، پښتو نوموالتړنګونه (په الماني) ، پښتانه او ورونه ملیتونه (ژباړه) ، د کنیشکا د سره کوتل ډبرلیك (ژباړه) ، د سبړ ونو نڅا .

بیه : ۲۰ روپۍ= ۲۵۰ افغانۍ
پلورځي : حاجی سوداګر (قصه خواني)
سید محمد کونړی
او عبدالمجید (جلال آباد)

د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه ۳